ډاکټر احسان آذري ستانيزی ۲۰۱۳/۰۴/۱۹

# د افغان او فرنګ ناتمام غزل

د امریکا د میامي هیرالډ ورځپاني د سپتمبر په نهمه ولیکل:
د پاکستان پولي ته نیژدې، د کونړ په یوۀ لرې پروت کلي کي موږ په یوۀ دام کي را ګیر شولو، له هرې خوا هلته د مخالفینو د توپکو او راکټونو ډزې اوربدل کېدې، دوی له غرونو او یوې لويې کلا ته ورته کلي نه اورونه شیندل او ماشومانو او ښځو دوی ته مهمات رسول.

د جنګیالیو یوۀ مشر په راډیويي پیغام کي ناري وهلې: "موږ به له تاسو سره هغه څه وکړو چي له روسانو سره مو کړي ول"، په داسي حال کي چي دوی له یوې غټې ډبرې نه بلې ته په چټکۍ سره تله او راتله بیا به يې ژورو سنګرونو ته خېزونه اچول او د سنګي دېوالونو له شا نه به يې پر موږ پرله پسي ډزې کولې. موږ امریکايي څرخکي ته کابو یوه ګړی په انتظار ولاړ وو، دا په داسي حال کي و چي موږ ته ویل شوي ول چي په پینځو دقیقو کي به د هوا له لاري تر پوښښ لاندي ونیول شو.

د مانوګانو مشر، جګړن کیون ویلیام چي ۳۷ کلن و، ناري کړې: "موږ تر سخت اور لاندي نیول شوي یو او زموږ پوځي مهمات هم په خلاصېدو دي، موږ په جګړه کي ناکام شوو".

د سه شنبه په ورځ څلور مانوګان و وژل شول. د دوی دنده دا وه چي د افغان "ملي" پوځ افسران و روزي. اته افغان پوځیان او پولیس او همدارز د مانوګانو د قوماندان مترجم ټول ووژل شول. جګړه چي د طالبانو د یو کمین په ترڅ کي سهار وختي پیل شوې وه د ماسپښین په دوو بجو پای ته و رسېده.

دري امریکایان او نولس افغان پوځیان ټپیان شول. دوی د مخالفینو دوه مړي هم ولیدل، خو ویل کېږي چي نور هم وژل شوي ول.

د نومړي کلي په یوه څنډه کي امریکايي مانوګان محاصره شوي او پوځي مهمات يې هم خلاص شوي ول. یوۀ مانو د دي دپاره سر کوز کړی و، چي د بل ټپي مانو پر ټپ درمل ولګوي، خو وروسته بیا دا دواړه مانوګان و وژل شول.

سپوږمۍ اوچته را ختلې وه او د کلي پر ختینو کورونو يې رڼا پاشله. زه د شپېتو افغان پوځیانو، شل سرحدي پولیسو او دیارلس تنو امریکايي مانوګانو سره یو ځای له دې محاصره شوي کلي نه د امریکايي پوځي اډې پر لور- چي د ښرني په ولسوالی کي پرته ده- روان شوم.

بیا له افغان پوځیانو نه وغوښتل شول چي کلي ته لاړ شي او هلته د وسلو پلټنه وکړي او له سپین ږیرو سره وګوري او له دوی سره د ګزمي د پولیسو په جوړولو و غږېږي. امریکایانو هدایات ورکول او ویل يې چي د ضرورت په وخت کي به هوايي بمبارۍ او د غټو توپونو د اور لپاره مرسته وغواړي.

وروسته له دې چي موږ د یوۀ میل لپاره د شګو او کانو دپاسه مزل وکړ بیا یوۀ کلي ته و رسېدو چي د پاکستان پولي ته شپږ میله نیژدې پروت و.

د سباوون پنځه نیمي بجي وې چي د لومړي ځل لپاره د ماشین لرونکي توپك غږ شو او بیا د ګولیو باران پیل شو. بیا د بې پس لغتو توپونو غورمبا د لويې ناوې فضا ډکه کړه. د توپکو څو ګولۍ د کانو پر هغه دېوال ولګېدلې چي شاته يې زه د یوۀ افغان او یوۀ امریکايي افسر سره یو ځای پټ شوی وم.

لومړی بریدمن ادیمولا فابایو چي اته ویشت کلن و او څو نورو پوځیانو وروسته ووېل چي دوی په خپلو سترګو ولیدل چي ښځو او ماشومانو هغو جنګیالیو ته چي د کلي د کورونو په اورسیو او بامونو کي يې سنګرونه نیولي ول، پوځي مهمات رسول. د ناوې په منځ کي امریکايي او افغان پوځونو هم د دوی په ځواب کي ډزې کولې.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

بیا تورن سونیسن- چې افغان سرحدي پولیسو ته یې لارښوونه کوله، د امریکا د پوځ د غرني لسم نمبر قول اردو څخه د هوايي مرستې غوښتنه وکړه. ځواب دا و چې اوس دلته کومه څرخکه نه شته.

د سهار شپږنیمې بجې وې چې زموږ لپاره شرایط خورا ګران شول، بیا سونېسن او فابایو تصمیم ونیو چې باید پرشاتګ وکړو. بیا یې د مخابرې په واسطه غوښتنه وکړه چې توپونه دي لوګی او غبار جوړ کړي څو زموږ تېښتې ته پرده ونیسي او څوك مو ونه ګوري.

پینځوس دقیقې وروسته هغه وخت چې ناوه د سپین فاسفورس ګاز د دوړو څخه ډکه شوه، سیونس او فابایو سختې ډزې پیل کړې، بیا موږ د ختو په لښتیو او کروندو کې مخ په وړاندې تلو. دواړه افسران له موږ سره یو ځای شول، بیا هر یوۀ په منډو پیل وکړ، خو زه پر ځای و درېدم ځکه چې ډارېدم چې ونه وژل شم، ځکه د زیاتو خلکو غونډه له خطر سره مخ وه. زه د توپکو د ټکهار تر غلي کېدو پورې پر خپل ځای پاتې شوم او بیا مې په خوځېدو پیل وکړ.

موږ بیا د مخالفینو پر کمین ور واوښتو خو ټولو نارې کړې چې ژر باید په تېښته پیل وکړو، خو بیا د توپکو ټکهار زور ونیو، ما پر ختو او خاورو دپاسه پروت وکړ.

زما قهر له ډاره زیات وو، زه د دې لپاره په غوسه وم چې ولې له موږ سره هوايي مرسته نه کېږي او ولې د لویو توپونو ډزې نه کېږي. زه په دې هم زیات په قهر وم چې د فابایو افغان مترجم و وژل شو. زه له دې نه هم په غصه وم چې ولې له لورو نه بیرته پاتې شوم. کله چې د افغان پوځیانو یوې ډلې هرې خواته په منډو پیل وکړ، زه پوه شوم چې اوس باید حرکت وکړم. د دوی قوماندان چې یو شېږویشت کلن ځوان و او روح الله نومېدۀ ګوډ- ګوډ پر لاره روان و، ځکه چې هغه په ګولۍ لګېدلی و. ما دوه پښې درلودې او دوه مې پور کړې او په منډو مې پیل وکړ. هرې خواته مې ګردونه پورته شول، ما تر هغو پورې منډې وهلې چې یوۀ دېوال ته ورسېدم. نیژدې وو چې په سوینس فابایو او څو نورو ټپي شویو امریکایي پوځیانو ور ولوېږم، کله چې فابایو ولوېدۀ، سوینس دپاسه پر ولوېد، دوی یو بل پوځي چې په اوږه کې ټپي شوی و، له ځانه سره و غورځاوه. همدې ټپي شوي ماڼو په یوۀ لاس کې مخابره نیولې وه او سملاسي یې دوه امریکایي څرخکو ته چې په اسمان کې را ښکاره شوې وې د طالبانو د سنګرونو د موقعیت په باب معلومات ورکړل.

د سهار اووه بجې او لس دقیقې وې چې څرخکي زموږ دپاسه را ورسېدې، موږ هم اوس په ډاډ سره بیا حرکت وکړ. ما بیا یو ټپي ماڼو څرخکې ته پورته کړ. بیا زۀ څرخکې ته ور پورته شوم، خو تورن سوینس، لومړی بریدمن فابایو له یوۀ بل امریکایي افسر سره په یوۀ ګاډي کې کښېناستل څو د وژل شوي ماڼوګانو مړي ومومي.

**یاددښت:**

O - د یوۀ کمین دا راپور جوتوي چې امریکایان اوس د افغانستان په واقعیتونو د پوهېدو په حال کې دي. همدا نن د ایکونومیسټ اوونیزې ولیکل: "د اسپانیا د ګاوجنګي په لوبه کې غویی هڅه کوي چې د ګاوباز خولې و غورځوي، خو هر کله چې غوایی هڅه کوي، ګاوباز هغه په نېزه وهي، دا لوبه تر دې دوام کوي چې غوایی د ګاوباز له پرله پسې نېزو څخه پر ځمکه لوېږي او په دې ډول غوایی د کمزوري ګاوباز په مقابل کې په پای کې ماته خوري. په افغانستان کې د ناټو د پوځونو عمومي قوماندان ستانلي مك کرسټال وایي چې د دۀ پوځونه لکه د یوۀ زورور خو احمق غوايي غونډې عمل کوي. دا غویی په مخالفو جنګیالیو پسې ګرځي خو خپل تاکتیك ته بدلون نه ورکوي. ښایي طالبان په پای کې د ناټو غوړونه پرې کړي".

۱- همدا ډول پرون د جرمني د شپیګل مجلې له هغه پوځي ډاکټر سره خبرې کړي چې د پوځ څخه تبنتېدلی دی. دا ډاکټر د یوې پوښتنې په ځواب کې وایي: "نور نه غواړم زه د لېونتوب د یوۀ ماموریت غړی و اوسم. زه نه شم زغملای چې ځوانان دې بېځایه و وژل شي. نور ډاکټران هم په واقعیت پوه شول او پوځ یې پرېښود. په دې جګړه کې پوځیان دانګي وانګي کېږي او موږ یې نه شو بیرته جوړولای. حال ښځي خراب شوی دی، کله- کله ډاکټران په زوره هم افغانستان ته لېږل کېږي.

د بلې پوښتنې په ځواب کې چې آیا داسې کومه لار شته چې افغانستان ته د تلو نه ځان و ژغورئ؟ دۀ وویل: "د تېښتې لاره یواځې دا ده چې ووایو چې موږ لېوني شوي یو او باید د اعصابو ډاکټر ته یووړل شو. څرنګه چې موږ مسلکي ډاکټران یو بیا په دې چل ښۀ پوهېږو چې څنګه ځان په ټګۍ واچوو چې د اعصابو ډاکټر پر موږ د لېوني ګومان


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وکړي. بیا د اعصابو ډاکټران وايي: "دوی لېوني شوي دي، د شپې خوب نه لري او تل د ځان وژنې فکرونه کوي. له دې کبله دوی د جګړې لپاره تیاری نه لري، خو ځینې مو بیا خپل کار او وظیفه له لاسه ورکوي".

۲- د انګرېزي استعمار یو راز دا و، چې د ظلم او زیاتي لپاره به یې تل وزرونه او ښکر پیدا کول. یو آیرلنډی شاعر د انګرېز بیرغ ته د قصاب لمن وايي. د فرانسې د اوولسمې پېړۍ لوی لیکوال ولتېر (۱۶۹۶- ۱۷۷۸م) په خپل ناول "کاندید" کې د انګرېزانو ښۀ انځور کاږي.

کاندید د ناول د داستاني اتل نوم هم دی، کاندید وايي کله چې په یوه بېړۍ کې د انګلیستان ساحل ته ورسېدم، داسې څه مې ولیدل چې تکل مې وکړ چې هرکله به د دې هېواد پر خاوره قدم نه ږدم.

د ساحل د یوۀ دېوال مخې ته یې یو پوځي جنرال راوستی و، د دۀ لاسونه او پښې یې ور تړلي ول، مخکې له دې نه چې دا جنرال و وژل شي، څو نور پوځیان د لېوانو په څېر پرده چنګاو شول او د دۀ ښانونه یې له یونیفورم نه وشکول. بیا لسو تنو په یوۀ کتار د محکوم جنرال پر لوري خپل توپك نبغ کړل، دوی درې ځلې دا پوځي جنرال په ګولیو وویشت. د دۀ سر او ټول ځان سوری- سوری شو.

بیا کاندید وايي چې ما له یوۀ شخص نه چې د دې صحنې ننداره یې کوله وپوښتل: "دې جنرال څه ګناه کړې وه؟ " دۀ په ځواب کې وویل: "د دې جنرال ګناه دا وه چې په جګړه کې د هغو سرېو شمېر چې دۀ وژلي وو، د نورو جنرالانو د مقتولینو څخه کم ول او له همدې کبله په مرګ محکوم شوی و، چې ولې یې کم خلك وژلي دي.

۳- دا راپور د دې اثبات هم ګڼل کېږي چې په افغانستان کې هر څه بیا او بیا په یوۀ دایروي حرکت کې پېښېږي. په لوېدیځ کې داسې فکر کېږي چې که په تاریخ کې یو شی د دوهم ځل لپاره تکرار شي، هغه زیات خندنی وي، خو د افغانستان توپیر دا دی چې هر ځل یو شی په خپل لومړني شکل بیا تکرارېږي.

یو انګرېز لیکوال او شاعر چې روډیارډ کپلنګ (۱۸۶۵- ۱۹۳۶م) نومېږي او د ادبیاتو په څانګه کې یې د نوبل جایزه هم اخیستې وه، پر افغانستان او افغانانو باندې زیاتې لیکنې کړي او ګڼ شمېر شعرونه یې لیکلي دي. د دۀ یو ناول "هغه سړی چې پاچا کېږي" افغانستان ته وقف شوی دی. د دې ناول سیمه زموږ نورستان ټاکل شوی دی او د کتاب اصلي پیام دا دی چې د لوېدیځ پوځونه باید هیڅکله افغانستان ته ور نه شي، که نه نو سر به یې مات او پښېمانه به وي.

د لیکوال بل ناول "کیم" نومېږي، په دې ناول کې یو مهم شخصیت محبوب نومېږي چې یو پښتون دی. دې لیکوال، همدا راز خپل یوۀ لنډ داستان ته په پښتو "درې واړه یو دي" عنوان ورکړی دی. په دې داستان کې کپلنګ لیکي:

"بې سره ځان، بې رڼایي روح او زما تك تور زړۀ درې واړه یو دي".
"اور، ایرې او زما کټ درېواړه یو دي"
"د لمر سترګه، د سپوږمۍ سترګه او زما ناکراره سترګې درېواړه یو دي"

دا انګرېز لیکوال د امیر عبدالرحمان خان سره څو ځلې ولیدل او په راولپینډۍ کې یې له هغۀ سره مرکې هم کړې دي. دۀ د تور امیر په باب څو شعرونه هم ویلي دي. یو شعر یې  "د پاچا ترحم" نومېږي، د دې شعر په سر کې د طنز په ژبه ویل کېږي:

عبدالرحمان، د درانیو د مشر په باب زیات نکلونه کېږي،
د دۀ شفقت او ترحم د خیبر غرونه ډك کړي دي،
دا ځکه چې د دۀ فیض او برکت خو خورا ډېر دی،
دۀ د شمال او جنوب بېخ ایستلی دی،
د دۀ دبدبه او جلال خو بېخي زیات دی،
له بلخ نه نیولې تر قندهاره ټول د دۀ د سخاوت خبرې کوي،
د پېښور زړې دروازې ته، هلته چې کردان او کافران راځي،
د کابل والي د کوځې عدالت خپل کړی دی،
او هغه داسې هسك دی لکه د دار حلقه او داسې تېز لکه توره.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دې شاعر يوۀ انګرېز پوځي ته چې د کابل په سيند کې ډوب شوی و، يو شعر ويلی دی. په دې شعر کې دی وايي:

کابل د کنډوالو ښار،
نغارې و غږوئ او توري را و باسئ،
زه به هغه مخ هېر نه کړم،
چې په سيند کې ډوب شو،
کابل د لمر او دوړو ښار،
نغارې و غږوئ او توري را وباسئ.

د کپلنګ يو بل شعر هم ډېر مشهور دی چې اوس- اوس د امريکا- انګرېز په مطبوعاتو کې په پرله پسې ډول د يوۀ خبرداري په توګه خپرېږي. د شعر په يوه برخه کې ويل کېږي:

که د افغانستان په درو کې ټپي شوې،
بيا به ښځې درځي او تا به په کانو ولي،
ژر شه توپك ته لاس کړه،
د سر ماغزه دې والوزوه،
او لکه يو سرتېری غوندې مړ شه.

په يو بل شعر کې وايي:

چې په پسرلي کې د دښتو ګياوې شنې سي،
زموږ قافلې د خيبر په کږه وږه لاره روانېږي،
اوښان ډنګر خو ټيپيان مو چاغ وي،
جېبونه مو سپك خو بار مو درونډ وي،
دا هغه وخت دی چې د شمال سوداګر د پېښور بازار ته را ښکته کېږي.

بل انګرېز ليکوال سيمون هاك نومېږي چې په ۱۹۸۶م کې يې "د خيبر اتصالات" ناول وليکۀ. په دې ناول کې ليکل کېږي:

"يوه انګرېزه ښځه وايي: "ته فکر کوې چې زه د دې جوګه نه يم چې هلته لاړه شم؟ يو پوځي، اندري د دې په ځواب کې وايي: ډېره ښېنه غواړم، د پښتنو هسك غرونه د ښځو جنګياليو لپاره مناسب ځای نه دی". ښځه بيا وايي: ته فکر کوې چې ته دومره مېړانه لرې چې هلته لاړ شې؟" پوځي ور غبرګوي: "او مېرمنې، زه خو يو نارينه يم او د پښتنو سره يوائې نارينه ډغرې وهلای شي".

بل ځای:
"پرېږده پلاره لږ څه د پښتنو په باب درته ووايم. خدای بل نور څوك دومره غښتلي او وحشي نه دي پيدا کړي. که مړ هم شم دوی به در وپېژنم. پرېږده دوی درته لږ انځور کړم. د دوی پزې لکه د بازانو د مښوکو غوندې کږې دي... دوی اوږدې او ببرې توري ږيرې لري.... دوی غټ غټ پټکي لري، چې لږ تر لږه د يوې يا دوو مياشتو لپاره نه دي وينځل شوي.. دوی اوږدۀ او سپين کالي اغوندي. د دوی تر ملا تل تومانچې او اوږدې قبضې او توري ځوړندې وي. دوی په لاسونو کې اوږدۀ چقمقي توپك نيولي او په غوږونو کې يې ګلان ټومبلي وي... او بيا يې هغه وخت ګوره چې د خپلو تورو سره اتڼ کوي، ته به وايي ځمکه په لړزېدو شوه".

په بل ځای کې ليکوال بيا وايي:
"دا خلك تل له بهرنيو يرغلګرو او بيا يو بل سره په جګړه وي، دوی يوائې قرآن او پښتونولی ته وفاداره دي او بس. دا د دوی د ټولنيز ژوند ناليکلی قانون دی. د دوی ژوند- دود پر دريو اصولو ولاړ دی. لومړی: مېلمستيا، هر څوك چې د يوۀ پښتون د کور دروازې ته ورشي هغه يو له وياړه ډك مېلمه ګڼل کېږي، که څه هم چې د دۀ لوی دښمن هم وي. دوهم: ننواتې، که هر څوك يا د فرنګي او يا د بل چا له لاسه دوی ته پناه وروړي، هغه هرومرو ښنل کېږي او له هغۀ نه په هره بيه ننګه کېږي. دريم: بدل، دا د پښتنو تر ټولو سخت قانون دی، چا چې له پښتون سره بد کړي وي هغه به هرومرو يوه ورځ هماغسې بد ويني... دې هېواد ته د برتانوي هند شاهي پوځونه ورغلي ول، څو شېر غرني قبايلي


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ایل کړي. شمال ته د باجوړ، بونیر، دیر او سوات غرونه پراته ول چې هلته مهمند او یوسفزي ژوند کوي. په خیبر دره کې اپریدي پراته دي. د تیرا په لوړو غرونو کې بیا اورکزي ژوند کوي. د وزیرستان او بنو جنوب خواته مسود او وزیر پراته دي.
هغه ځواکونه چې هلته تللي وو، انګرېزي کندکونه او د سکانو او مسلمانو پنجابیانو مزدوري ملېش وي. دوی په سپاهیانو او سواره ځواکونو وېشل شوي ول. دوی له زنبورك توپونو، اوښانو، پیلانو، آسونو او کچرو نه کار اخیست".

۴- په انګرېزي مطبوعاتو کې دا هم کښل شوي دي چې د افغانستان په جنوب ختیځ او لوېدیځ کې- چېرته چې پښتانه مېشت دي- هیڅوك د امریکایي ماښوګانو او انګرېز پوځیانو تحفي او وړیا مرستې نه مني. کله چې دوی ته چاکلېټونه، ګرځنده ټلیفونونه او داسې نور توکي ورکړل شي، دوی یې د اخیستو څخه ډډه کوي. حتی ماشومان بهرنیو پوځیانو ته لاړې ور توکي. په دې سیمو کې هر څوك جنګیالی وي، حتی داسې پښتانه هم لیدل شوي دي چې بوټونه او څپلی یې نه درلودې او پر پښو یې پلاستیکي کڅوړې تاو کړې وي. خوشحال بابا ریښتیا ویلي ول: "چې قصه د نام و ننګ شي لېونی شم".

۵- په پای کې لکه چې لوېدیځوال وایي چا چې تاریخ هېر کړی وي هغه تکراروي او امریکا- انګرېز اوس همدا کوي. دوی فکر کوي چې د ټوپك او ډالرو په زور به دا هېواد او دا خلك خپل کړي، خو زه پوره ډاډه یم چې دا خلك او دا هېواد غلامی ته نه دی جوړ شوی. یوه ورځ به هرومرو ارمان ته رسېږي، خو له دې سره- سره زما شك له اطمینانه زورور دی. کله چې فکر کوم چې دا ټولي سربښندني او زموږ وینې به وړیا لاړې شي او که نه.

په پای کې د یوه بل انګرېز لیکوال خبرې کوم چې لویي پالمر نومېدۀ او د افغانستان په باب یې په ۱۹۹۰م کې "په افغانستان کې لیدني" کتاب کښلی و. په دې کتاب کې لیکوال د یوۀ خیالي او ناخیالي بابا مجذوب نکل کوي چې د کندهار د چهل زیني په لېوني بابا مشهور وو. هر څوك به مجذوب بابا ته ورتلل او له هغۀ نه به یې سبق تر لاسه کاوه. دا انګرېز لیکوال هم دۀ ته د فیض او برکت لپاره ورغلی و. مجذوب بابا د چهل زیني لېوني وویل: "که زما خبرې مني بیا زما په عمل پسې مه ګرځه او که زما عمل مني بیا زما د خبرو خیال مه کوه. مجذوب بابا ماته دا نصیحت وکړ:

یوه ورځ یو پاچا ماته راغلی و او زما د کنډوالي د دروازې شاته یې د سرو زرو یوه کڅوړه د تحفې په ډول کښېښوده. زه ډېر ناکراره شوم او د کنډوالي له یوې غاړې مې د یوې وچې شوې ډوډۍ یوه ټوټه پاچا ته ورکړه. پاچا هغه خولې ته واچوله او په ژوولو یې پیل وکړ. ډېر ژر ما پر پاچا غږ وکړ چې ژر شه ډوډۍ توکړه که نه نو دا به تا و وژني".

د چهل زیني د مجذوب بابا تاریخي نصیحت اوس باید امریکا- او انګرېز واوري.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ